# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

خوارلسم کال، ۱۶۱ ګڼه د ۱۳۹۹ د لړم میاشت

## د افغانستان بانک،
## مسئول **نظارت** بر بانک ها
### و مؤسسات مالی کشور



**اشتراک محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در نشست سالانه نفت و گاز ترکمنستان**



**مختصری در مورد سرمایه گذاری**



**د اسلامي بانکوالۍ تاریخچې ته لنډه کتنه**

## بیرق ملی، سرود ملی و پول ملی از جمله ارزش های ملی ما هستند

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زموږ د ارزښتونو له ډلې څخه دي

## ملی بَیرق، ملی اَشوله و ملی پول، ملی ارزشلریمیز دیرلر







## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینۍ خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانك یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانك تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، د افغانستان بانك له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانك په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.



## د دې گڼې مطالب


اشتراک محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در نشست سالانه نفت و گاز ترکمنستان

سخنرانی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در کنفرانس ژنیوا!

د افغانستان بانک؛ مسئول نظارت بر بانک ها و مؤسسات مالی کشور

پر کابل پوهنتون د وروستی خونړۍ تروریستي پېښې په اړه د قرآن عظیم الشان ختم او د دعا مراسم

پیام تسلیت

د ګډ بانکي حساب ګټې

د اسلامي بانکوالۍ تاریخچې ته لنډه کتنه

په بانکي سیستم کې د تکنالوژۍ رول

نمایشگاه ها؛ مراکز تبادل اطلاعات و معرف اموال تجاری

وضعیت اقتصادی جهان

مهار آب کشور؛ زمینه ساز آینده درخشان

د نړۍ لس بډایه کسان وپیژنئ

د اوبولګولو نوي لارې چارې؛ د هېواد د کرنې ودې ته لاره هواروي

د نیمروز ولایت د مالوچ (پنبې) په حاصلاتو کې لس سله زیاتوالی

مختصری در مورد سرمایه گذاری

تدویر برنامه آموزشی برای صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی هرات



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع:

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحۀ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارۀ ثبت: ۶۵۸


به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank



# اشتراک محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در نشست سالانه نفت و گاز ترکمنستان




۷ عقرب، ۱۳۹۹– نشست سالانه نفت و گاز ترکمنستان این بار از راه دور بشکل آنلاین برگزار گردید.

این نشست که همه ساله تدویر می یابد، برای شرکت های بزرگ سرمایه گذاری و کشور های نیازمند به نفت و گاز کمک می کند تا با سران تصمیم گیرنده سکتور نفت و گاز ترکمنستان داخل مذاکره شده و از فرصت های داده شده استفاده مفید نمایند.

طی این نشست محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک به نمایندگی از افغانستان اشتراک نموده و طی سخنرانی از همکاری های متقابل راهبردی اقتصادی به ویژه در سکتور نفت و گاز، پروژه های مشترک اقتصادی بخصوص در قبال تطبیق و پیشرفت پروژه انتقال لوله گاز ترکمنستان به افغانستان (TAPI) یادآوری نموده و تطبیق این چنین پروژه ها را به نفع کشور های منطقه عنوان نمود.

محترم احمدی ضمن سپاسگزاری از کشور دوست ترکمنستان در زمینه تسهیل روند تطبیق پروژه انتقال گاز از ترکمنستان به افغانستان بر تداوم همکاری های مشترک اقتصادی بخصوص در بخش تأمین انرژی و گاز تأکید ورزید.

# سخنرانی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در کنفرانس ژنیوا






کنفرانس انکشافی ۲۰۲۰ در مورد افغانستان از تاریخ ۲۴-۲۳ نوامبر در ژنیوا سویس برگزار گردید. این کنفرانس که به هدف متعهد ساختن حکومت افغانستان و جامعه جهانی به اهداف مشترک انکشافی برای سال های ۲۰۲۱ الی ۲۰۲۴، هماهنگی برای همکاری های انکشافی و حصول اطمینان از حمایت مالی برای حکومت افغانستان تدویر یافته، مشترکاً توسط دولت افغانستان، دولت فنلند و سازمان ملل متحد به پیش برده می شود.

محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک بتاریخ ۲۳ نوامبر در نخستین روز این مجمع از طریق ویدیو کنفرانس وصل و طی آن تعهد خود را نسبت به ایجاد سکتور مستحکم مالی برابر با معیار های پذیرفته شده جهانی که بتواند پاسخگوی نیازمندی های امروزی در عرصه های تولیدی، خدماتی و سرمایه گذاری کشور باشد، به اشتراک کننده گان ابراز نمود.

محترم اجمل احمدی در قسمت دیگر سخنانش افزود که د افغانستان بانک متعهد است که سلامت و ثبات نظام مالی و بانکی کشور را با در نظرداشت معیار های مقرراتی و نظارتی مطلوب و راهکار های مناسب حفظ نموده و در امر توسعه خدمات مالی تلاش نماید.

سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک دیجیتال سازی تادیات کشور در شرایط حاضر را گزینه مناسب برای مبارزه با فساد و شفافیت در معاملات اقتصادی عنوان نموده، تعهد سپرد تا از اینطریق تسهیلات لازم را برای تجار و سرمایه گذاران فراهم نماید.

قابل ذکر است که در این کنفرانس در سطح وزراء، بیشتر از ۷۰ کشور علاوه بر سازمان های بین المللی گرد هم آمده، که تعداد زیادی از اشتراک کننده گان کمک های مالی خود را به افغانستان اعلام نمودند.

# د افغانستان بانک، مسئول نظارت بر بانک ها
## و مؤسسات مالی کشور



یما عفیف
مدیر نشرات د افغانستان بانک

د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی کشور نظارت بر تطبیق قوانین و مقررات نظام بانکی را عهده دار است.

تطبیق قوانین بانکی؛ نظام بانکی و مالی با ثبات، مصون، سالم و مؤثر را بمیان آورده و میتواند اعتبار و اعتماد نظام بانکی کشور را بیشتر از پیش افزایش دهد.

»




یکی از وظایف اساسی د افغانستان بانک مطابق به قانون د افغانستان بانک اعطای جواز به بانک ها، مؤسسات مالی، عرضه کننده گان خدمات پولی، صرافان و نظارت بر فعالیت های آنها می باشد.

**د افغانستان بانک منحیث بانک مرکزی کشور نظارت بر تطبیق قوانین و مقررات نظام بانکی را عهده دار است.**

د افغانستان بانک جهت شفافیت امور بانکی و مالی، تطبیق قوانین و مقررات بانکی و جلوگیری از خطرات احتمالی بانک ها و مؤسسات مالی؛ امور مالی و سیستم های تادیاتی بانک ها و مؤسسات مالی را تحت نظارت قرار میدهد که این موضوع بر اعتماد بانک ها و مؤسسات مالی تأثیر می گذارد. به همین ترتیب، سپرده گذاران به عملکرد بانک ها اعتماد بیشتر نموده و پول خود را که بخشی عمدۀ دارایی های شان است، در کنار سایر اسناد و اشیای بهادار با خاطر راحت در بانکها به امانت می گذارند و سایر موارد و مبادلات پولی خود را از طریق مؤسسات مالی انجام میدهند.

بانک های کارگذار در افغانستان، همواره تحت نظارت د افغانستان بانک قرار دارند تا از پول و دارایی امانات گذاران حفاظت بعمل آید. نظارت بر فعالیت بانک ها در روند فعالیت های اقتصادی نقش برازندۀ را ایفاء نموده و باعث تسریع فعالیت های اقتصادی و سبب افزایش اعتماد مردم بالای نهاد های اقتصادی به ویژه بالای بانکها می گردد.

خدمات شفاف، صادقانه، با سرعت و بدون ضیاع وقت، خواست مشتریان بانک ها و مؤسسات مالی کشور است. هرگاه معاملات و مبادلات مشتریان به اسرع وقت و به شکل سهل صورت گیرد، مشتری هیچ وقت از بانک و خدمات بانک دور نخواهد رفت. د افغانستان بانک با تطبیق قوانین و نظارت بر فعالیت بانک ها همیشه تلاش نموده تا زمینه اجرای معاملات شفاف را بین بانک ها، مؤسسات مالی و مردم فراهم نماید تا اعتماد مردم بیشتر از پیش بالای نظام بانکی افزایش یابد و مردم از خدمات نظام بانکی و مالی کشور در هر گوشه و کنار بهره ببرند.



# خبرتیا

## ګرانو هېوادوالو!

د خپلو مالي معاملو د خوندیتوب او د صرافۍ او پولي خدمتونو د کاروني پر مهال د قــوانینو او مقــرراتو د ښه پلي کیدو په موخه د صرافۍ او د پولي خدمتونو جواز لرونکو او منع شـویو کړنو ته چي لاندي ترې یادونه شـوې ده، پاملرنه وکړئ او هغه ترسره کړئ، څو په مالي معاملو کې د خوندیتوب ترڅنګ مو خپل قانوني او حقوقي مسئولیت هم اداء کړی وي.

## د صرافۍ جواز لرونکي کړنې

- د اسعارو پېر او پلور (د اسعارو مبادله)
- د اسعارو د مخکې پېر د قراردادونو له لارې د معاملو ترسره کول

## د صرافۍ منع شوي کړنې

- له صرافانو سـره د امانتونو اېښودل: صرافان نشي کولای چي له پېرودونکو څخه پیسې د امانت په توګه ترلاسـه او یا وساتي؛
- صرافان نه شي کولای چي کسبګرو، سوداګرو او داسې نورو اشخاصو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي؛
- صرافان نشي کولای چي په داخل او یا له هېواد څخه بهر حوالې ترسره کړي او یا برعکس د حوالې پیسې اجراء کړي.

## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو جواز لرونکې کړنې

- د پیسو لېږد؛
- په نغدو پیسو د چک تبادله؛
- • اسعارو مبادله او یا د صرافۍ نورې جواز لرونکې کړنې؛

## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو منع شوې کړنې

- د امانتونو منل (قبلول): د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چي له مشـــتریانو څخه امانتونه ترلاسه او وساتي؛
- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چي کسبګرو او سوداګرو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي.



# پر کابل پوهنتون د وروستۍ خونړۍ تروریستي پېښې په اړه د قرآن عظیم الشان ختم او د دعا مراسم

کابل، د ۱۳۹۹ د لړم ۱۳ مه – په د افغانستان بانک کې د کابل پوهنتون د وروستۍ خونړۍ تروریستي پېښې د شهیدانو روح ته د دعا او قرآن عظیم الشان د ختم مراسم تر سره شول.

د قرآن کریم د ختم د مراسمو په ترڅ کې ګډونوالو د یادې وروستۍ تروریستي خونړۍ پېښې د شهیدانو روح ته او د دې پېښې د ټپیانو ته د ژر تر ژره روغتیا او همدارنګه په هېواد کې سراسري سولې او ټیکاو د رامنځته کولو لپاره دعا وکړه او د دې پېښې د قربانیانو کورنیو ته یې د لوی خدای ج له درباره د جمیل صبر غوښتنه وکړه.●

# پیام تسلیت

مورخ ۱۷ عقرب ۱۳۹۹ حوالی ساعت ۷:۴۵ صبح، موتر حامل کارمندان د افغانستان بانک مورد حمله تروریستی ماین مقناطیسی قرار گرفت که در این حمله سه تن از کارمندان نخبه این بانک به شهادت رسیدند.

در بین شهدا یما سیاوش مشاور امور روابط عامه آمریت عمومی دفتر ریاست د افغانستان بانک، احمدالله انس معاون اجرائیوی و پروتوکولی آمریت عمومی دفتر ریاست د افغانستان بانک و امین الله رضایی دریور ایشان شامل می باشند.

به همین مناسبت، رهبری د افغانستان بانک ضمن نکوهش این حمله بزدلانه که توسط دشمنان وطن صورت گرفته است، پیام تسلیت خویش را حضور خانواده ها، بستگان و همکاران آنها ابراز نموده و ضمن تسلیت، از خداوند متعال برای شهیدان رحمت واسعه و برای بازماندگان صبر و اجر مسئلت می نمایند.



همچنان، هیئت رهبری و کارمندان د افغانستان بانک مراسم ختم قرآن عظیم الشأن و اتحاف دعا را به روح پاک این شهدا، در د افغانستان بانک برگزار نمودند.

قابل یاد دهانی است که هیئت رهبری و کارمندان د افغانستان بانک بخاطر ارجگزاری به کارکردهای کارمندان این بانک ضمن اتحاف دعا بر روح مطهر آنها، اکلیل گل مزین با تصاویر ایشان را در جای کار شان به رسم بزرگداشت گذاشتند. •






# د ګډ بانکي حساب ګټې

له واده کولو وروسته د ګډ بانکي حساب خلاصول د یوې جوړې په توګه د کورني ژوند د مالي اداري مهمه لاره ده. دا دوديز چلند نيغ په نېغه دا ورانديز کوي چې د جوړې تر منځ د مال د وېش خبره له منځه لاړه شي ( هغه څه چې زما دي، ستاسو دي) ذهنيت ته وده ورکوي او دا چاره د کورني چاپېريال د ټينګښت لامل کېږي.

د ګډ مالي حساب ګټې

۱. دواړه یا جوړه پیسو ته لاسرسی پیدا کوي

د ګډ حساب له پرانيستلو سره تاسو دواړه کولای شئ چې خپلو ټولو پیسو ته لاسرسی پیدا کړي او له خپلو پیسو په پوره روښتيا سره ګټه پورته کړئ. مانا دا چې که تاسو دواړه خپلو پیسو ته یو شان لاسرسی ولرئ، د خپلو پیسو د لګښت په اړه په هېڅ شك او شبه کې و نه لوېږئ.

۲. د يو او بل له لګښتونو خبرېدنه

د دې ډول حساب پرانيستل تاسو ته دا واک درکوي چې د يو او بل له ټولو لګښتونو خبر تر لاسه کړئ او خپل لګښتونه کنترول کړئ. جالبه خو دا ده چې د ګډ بانکي حساب پرانيسته ستاسو



»

د ډېر او بې ځایه لګښت کولو عادتونه مدیریت کوي او دا عادتونه مو له منځه وړي.

۳. د نابېره پېښو د رامنځته کېدو پر مهال پيسو ته لاسرسی

مرګ له هيچا لېرې نه دی. د ژوند د ختمېدو دا غبړ ژر یا وروسته هر کس ته رسېدونکی دی، خو که تاسو ګډ بانکي حساب ولرئ او ستاسو له ډلې کوم کس په حق ورسپېري، ژوندی کس به مو دېته اړ نه وي چې ستاسو له بانکي حساب څخه د ډېرو لارو په تعقیب پيسې وباسي.

مانا دا چې دا چاره له دغې آسانتیا برخمن کوي چې په هر حالت کې خپل ګډ بانکي حساب ته لاسرسی ولرئ او د پيسو په را ایستلو کې له ستونزو سره مخ نه شئ.

۴. د چارو په وېش کې آسانتیا

دغه ډول بانکي حساب په شتون سره د ژوند چارې په ښه ډول مدیریت کېدلای شي. د بېلګې په توګه دا ډول بانکي حساب تاسو ته د دې وړتیا درکوي چې برېښنا، تلیفون، ګاز او نورو بلونه په وخت سره له همدې ګډو حسابونو اجرا کړئ.

۵. د باور رامنځته کول

د ګډ بانکي حساب رامنځته کول، تاسې او یا ستاسې د ژوند ملګري ته دا باور ورکوي چې پر دې بنسټ تاسو له یو او بل هېڅ کوم څه نه پټوئ او هر څه مو له یو بل سره شریک دي.

۶. موخې ته رسېدنه آسانوي

په یاد ولرئ چې د ګډ بانکي حساب لرل، تاسو له دې آسانتیا هم برخمن کوي چې په خپل مالي ژوند کې ټاکل شوې موخې په ښه توګه تعقیب کړئ. دا په دې مانا چې که تاسو په ګډ بانکي حساب کې خپلې ټولې پيسې را غونډې کړئ، تاسو به خپلو موخو ته د رسېدو لپاره په دې پوه شئ چې څومره نورو پیسو ته اړتیا لرئ تر څو دا موخې تر لاسه کړئ.

د ګډ بانکي حساب پورته ذکر شویو ګټو ته په کتلو سره په کار ده چې د ګډ ژوند ملګري په بانکونو کې دا ډول حسابونه پرانیزي ترڅو په دې وسیله د ژوند رواني چارې په ښه ډول مدیریت کړي او د رامنځته کېدونکو احتمالي ستونزو په وړاندې چمتوالی ولري.

مه هېروئ چې بانکونه ستاسو د پیسو د ساتنې لپاره تر ټولو مصون ځایونه دي، نو که غواړئ چې پیسې مو له هر خطر خوندي وي او د ګډ ژوند په چارو کې د هرې پیسې حساب درته معلوم وي، همدا نن د ګډ ژوند د ملګري/ ملګرې سره ګډ بانکي حساب پرانیزئ او پیسې مو په ښه ډول مدیریت کړئ.

ژباړه او زیاتونه

حسیب الله نوري

د نشراتو څانګې لوی آفیسر/ خبریال

---

سرچینې:


1 - What are the Benefits of a Joint Bank Account?

https://www.simple.com/banking-info/what-are-the-benefits-of-joint-bank-account

# د اسلامي بانکوالی تاریخچې ته لنډه کتنه

اسلامي بانکوالي د ۱۹۷۰ زیږدیز کال کې په لومړنۍ بڼه را منځته شوه او د ۳۰ کلونو په ترڅ کې يې پراخه وده وکړه. لومړی اسلامي بانک په ۱۹۶۳ زیږدیز کال کې د مصر په یوې لېرې پرته سیمه کې پر کار پیل وکړ.

ورپسې په ۱۹۷۵ زیږدیز کال کې د پرمختیایي اسلامي بانک بنسټ کېښودل شو چې بنسټیزه موخه يې په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې پر مختګ و. همدا شان د دوبی اسلامي بانک د بانکوالۍ د لومړي قانون پر بنسټ په همدې کال کې په منځني ختیځ کې رامنځته شو او د مالیزیا پارلمان د اسلامي بانکوالۍ قوانین تصویب کړل او له هغې وروسته په ۱۹۸۴ زیږدیز کال کې د سوډان هېواد اسلامي بانکوالي په خپل هېواد کې دود کړه. په ۱۹۸۵ زیږدیز کال کې د اسلامي هېوادونو فقهي شورا OIC د «



بشپړې اسلامي بانکوالۍ نظام د بیمې د سیستم د پر مختګ لپاره رامنځته کړ او په ۱۹۸۹ زیږدیز کال کې د سوډان د بانکوالۍ نظام په بشپړه توګه اسلامي بانکوالۍ ته بدل کړ.
په ۱۹۹۱ زیږدیز کال کې د AAOIFI د حساب ورکونې او څارنې مالي مشورتي بنسټ د اسلامي بانکوالۍ د معیارونو د رامنځته کولو لپاره رامنځته شو.

باید وویل شي چې په افغانستان کې هم له تېرو شلو کلونو را هیسې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ لپاره هڅې پیل شوې دي او تر دې مهاله په دې برخه کې پرمختګونه شوي دي.

دا مهال د افغانستان بانک په اډانه کې د اسلامي بانکوالۍ په نوم ځانګړې آمریت شتون لري چې د دې آمریت په چوکاټ کې ډېر شمېر کارکوونکي په بېلابېلو برخو کې پر دندو بوخت دي.

همدارنګه دا مهال په هېواد کې یو اسلامي سوداګریز بانک ته د پوره او بشپړ د فعالیت جواز ورکړل شوی دی او په نورو سوداګریزو بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ شعبې او څانګې شتون لري. د افغانستان بانک د هېواد بانکدار په توګه هڅه کوي چې د دې بانکوالۍ د پراختیا لپاره ټول اړخیزې هڅې وکړي او په دې برخه کې لازم پرمختګونه رامنځته شي. یادو شویو ټکو ته د کتو له مخې د اسلامي بانکوالۍ ځانګړنې په لاندې توګه وړاندې کېږي.

**برابروالی:** د اسلامي بانک بنسټ پر عدالت او برابروالي ولاړ دی او د پیسو ورکوونکي (Depositors) او پانګه اچوونکي (Investors) تر منځ پوره عدالت او انصاف مراعاتوي، ترڅو کومه ستونزه رامنځ ته نه شي، یعنې ګټه او تاوان یې سره شریک وي.

**ګټورتوب:** په اسلامي بانکي سیستم کې ملاتړ یا (Financing) د کار یا پروژې پر اغېزمنتوب ولاړ دی او یوازې هغو پروژو ته پانګه ورکول کېږي چې ډېره ګټه ولري، څکه چې بانک یې په ګټه او تاوان کې شریک دی.

**اقتصادي پیاوړتیا:** څرنګه چې په اسلامي بانکي سیستم کې د پیسو برابرونه (Deposit) او د پیسو په کار اچونه (Investment) د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنسټ ولاړ ده، نو څکه پورونه (Liability) او شتمنۍ (Asset) دواړه بدلون منونکي دي او ثابته بڼه نه لري چې په دې کې تل تعادل او برابروالی شتون لري.

**اقتصادي پرمختګ (Growth):** اقتصادي پرمختګ هغه وخت شونتیا لري چې د نوې تکنالوژۍ او پرمختللې بشري منابع پر بنسټ د یو هېواد یا ادارې وسایل په ښه توګه وکارول شي، ترڅو تولید زیات شي چې په دې کار سره د خلکو د ژوند کچه لوړېږي.

**د اړیکې نیول:** بله مهمه ځانګړتیا چې د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ بنسټ جوړوي له امانت ایښودونکو سره د اړیکې ساتنه ده. اسلامي بانکونه له خپلو پېرودونکو سره د پانګې اچونې پر بنسټ معامله کوي، نه دا چې مخکې له مخکې د سود او ګټې یوه ټاکلې کچه وټاکي.

سرچینې:
۱ - بانکداری اسلامی https://dab.gov.af/index.php/dr/node/1958
۲ - اسلامي بانکوالي او ځانګړتیاوې https://ps.wikipedia.org/wiki
۳ - Islamic Banking & Finance https://www.islamic-banking.com/explore/islamic-finance/shariah-rulings/question-answers-shariah-rulings/islamic-banking-finance



# په بانکي سیستم کې د ټکنالوژۍ رول



یحیی همیم
د معلوماتي تکنالوژۍ د آمریت د شبکې او سیستم پازوال

کله چې د عصري ژوند خبره منځ ته راځي، نو ویل شو چې د عصري ژوند لویه برخه یوازې د ځیرکې ټکنالوژۍ په مرسته جوړېږي. ټکنالوژي نږدې زموږ د ژوند په هره برخه کې د خورا لویو آسانتیاوو په رامنځته کولو کې رول لوبولی دی. په نړۍ کې هر کس د دې په لټه کې دي چې یو ښه ژوند ولري. نړۍ غواړي چې د راکړې او ورکړې په برخه کې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کړي چې یوه آسانتیا یې آنلاین سوداګري ده. د نړۍ په هر هېواد کې اوس آنلاین سوداګري کېږي او خلک د انټرنټ له لارې خپل توکي پلوري او هم یې رانیسي.

په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې د نړۍ ۱.۳۲ میلیارده خلک د آنلاین سوداګرۍ څخه برخمن وو او د آنلاین سوداګرۍ کمپنۍ اټکل کوي چې په ۲۰۲۱ زېږدیز کال کې به د نړۍ ۲.۱۴ میلیارده خلک د آنلاین سوداګرۍ څخه برخمن شي. دا د آنلاین سوداګرۍ په برخه کې ډېر چټک پرمختګ دی.

د آنلاین سوداګرۍ په برخه کې په نړۍ کې ډېر شرکتونه کار کوي چې یو بیلګه یې د امازون شرکت دی چې اوس مهال د نړۍ تر ټولو شتمن شرکت ګڼل کېږي. امازون د (امازون ګو)

»

په نامه تیر کال د جنوري پر پنځمه نېټه په امریکا کې یو داسې پلورنځی پرانیست چې هیڅ هټۍ وال نه لري. هر څوک د موبایل د یو اپلیکیشن پر مټ کولای شي له دې پلورنځي څخه پرته له دې چې په کتار کې و درېږي یو څه واخلي او د رانیول شوي محصول د بل پاڼه ترلاسه کړي.

دا هر څه امازون د ځیرکې ټکنالوژۍ په مرسته کوي. په لنډه توګه ویلای شو چې آنلاین سوداګري بازار ستاسو کور ته در وړي او تاسو اړ نه یاست چې تر بازار لاړ شئ.

کله چې تاسو یو څه د آنلاین سوداګرۍ پر مټ اخلئ کومې پیسې چې ستاسو د بانکي حساب څخه کمېږي هغه پیسې د هغه شرکت په بانکي حساب کې ور زیاتېږی کوم چې تاسو په کې سودا کړي ده.

دلته بیا بانک له تاسو او د شرکت دواړو سره مرسته کوي، ترڅو تاسو خپله را نیونه او شرکت خپله پلورنه په آسانۍ سره تر سره کړي او دغه ډول بانکي سیستم په عصري ژوند کې د انسان له ډېرو لومړنیو اړتیاوو کې ګڼل کېږي. ځکه نو بانکونه هڅه کوي چې ښه او آسان خدمتونه خپلو پېرودونکو ته وړاندې کړي. د بانکي سیستم ټکنالوژي پر دوو مهمو برخو وېشل کېږي. لومړی له مسئول کس څخه پرته بل څوک باید دې ډېټابیس ته لاسرسی و نه لري. په دویم پړاو کې دې وکتل شي چې څومره په آسانۍ او لږ وخت کې د ګټې اخیستنې وړ ده. د افغانستان بانکونه هم په چټکۍ سره خپلو پېرودونکو ته د ښو چوپړونو په وړاندې کولو کې یو له بل سره سیالي کوي.

دا چې په افغانستان کې د خلکو د تعلیم کچه ټیټه ده او ډېر خلک بیا انټرنټ ته لاسرسی نه لري او کوم خلک چې بیا انټرنټ لري، هغوی بیا نه شي کولای چې د انټرنټ لوړې بیې جبران کړي، نو دا بیا د افغانستان د بانکونو لپاره یوه ستره ستونزه ده، ځکه بانکونه نه شي کولای چې ټولو پیرودونکو ته هغه خدمتونه پر خپل وخت وړاندې کړي چې پر انټرنټ ترسره کېږي. موږ دلته د بانکونو ځینې هغه خدمتونه درپېژنو چې په بانکی سیستم کې د ټکنالوژۍ په مرسته پر مخ وړل کېږي:

## انټرنټي بانکوالي

د انټرنټ بانکوالي، د آنلاین بانکوالۍ او یا ای-بانکوالی پر نومونو هم یادېږي. دا د بانکونو او مالي بنسټونو لخوا وړاندیز شوي بنسټونه دي چې پیرودونکو ته اجازه ورکوي، څو د انټرنټ له لارې بانکي خدمتونه وکاروي. پیرودونکي اړتیا نلري چې د هري بانکې معاملې لپاره د بانک څانګې ته ورشي.



که تاسو غواړئ د انټرنټي بانکوالۍ خدمتونه وکاروئ، نو تاسو باید د حساب پرانیستلو پرمهال یا تر هغې وروسته د انټرنټي بانکوالۍ د خدمتونو د ګټې اخیستنې لپاره خپل بانکي حساب راجسټر کړئ.

د خپل انټرنټي بانکي حساب ته د ننوتلو لپاره راجسټر شوي د پیرودونکي ID او رمز وکاروئ.

**د انټرنټي بانکوالۍ ځینې خدمتونه:**

- د خپل بانکې حساب، صورت حساب کتل
- د Fixed deposit اکونټ پرانیستل
- د اوبو او برېښنا د لګښت د پیسو د بلونو تحویلول
- د آنلاین سوداګري ترسره کول

»

- بل چاته د پیسو استول او یا تر لاسه کول
- د چک بوک لپاره غوښتنلیک استول
- د عمومي بیمې اخیستل
- د خپل موبایل کریډیټ زیاتول

**د انټرنټي بانکوالۍ ګټې**

- د انټرنټي بانکوالۍ ګټه دا ده، هر ځای چې تاسو انټرنټ ولرئ کولای شی ترې ګټه پورته کړئ.
- کارول یې ساده او آسان دي.
- تاسو اړتیا نه لرئ چې بانک ته د ننوتونکو په لیکه کې ودریږئ او بانکي کړنې او معاملې ترسره کړئ.
- کولای شی خپلې بانکي معاملې یوازې د څو دقیقو په بهیر کې ترسره کړئ او خپل وخت پرې ضایع نه کړئ.

**۲ . موبایل بانکوالي**

د بانکي معاملو لپاره ګرځنده موبایل کارول تاسو ته اجازه درکوي چې خپلې بانکي راکړې او ورکړې په آنلاین ډول د خپل ګرځنده موبایل په مرسته تر سره کړئ.



دا مهال د موبایل بانکوالۍ څخه ګټه اخیستنه ځکه ساده شوې ده چې له موبایل د ګټه اخیستونکو لپاره داسې اپلیکشنونه جوړ شوي دي چې تاسو کولای شی په آسانۍ سره د یادو اپلیکشنونو په مرسته خپل بانکي حسابونه وګورئ، پیسې یو او بل ته واستوئ، بانکي صورت حسابونه په آنلاین ډول وګورئ او داسې نورې بانکي معاملې په آنلاین ډول تر سره کړئ.

کله چې په ۱۹۹۹ زیږدیز کال کې موبایل بانکوالي منځ ته راغله، هغه مهال د SMS بانکوالۍ په نوم پیژندل کیده او اروپایی بانکونه د نورې نړۍ څخه د دې خدمتونو په وړاندې کولو کې وړاندې وو. له ۲۰۱۰ زیږدیز کال وړاندې د ویب براوزر او لهایس ایم ایس بانکوالۍ څخه ډېره ګټه اخیستل شوې ده. وروسته له هغه چې د موبایل بانکوالۍ اپلیکیشنونه بازار ته وړاندې شول، د SMS او ویب براوزر بانکوالۍ بازار د پخوا په پرتله سوړ شو.

**د بریښنایي فنډونو لیږد Electronic Funds Transfer**

د بریښنایي فنډونو لیږد داسې یو سیستم دی چې پر مټ یې یو کس کولای شي د خپل بانکې حساب څخه بل حساب ته پرته له دې چې له کاغذي بانکنوټونو استفاده وشي، واستوي. د متحده ایالاتو د EFT د ۱۹۷۸ زیږدیز کال د قانون له مخې د آنلاین بانکوالۍ په ګډون، هر څوک کولای شي چې د تلیفون او یا کمپیوټر له لارې بانکي معاملې تر سره کړي. د EFT لیږدونه د نړۍ په هېوادونو کې په بېلابېلو نومونو پیژندل کیږي. د بیلګې په ډول د امریکا په متحده ایالتونو کې د بریښنایي چک او یا ای چک په نوم په انګلستان کې د بانک تادیه او یا د بانک لیږد په نوم نومول شوې ده. خو په ځینو نورو اروپایي هېوادونو کې د "giro transfer" په نوم پیژندل کیږي.

**د بریښنایي فنډ لیږد ډولونه** ( مستقیمه زېرمه (Direct deposit)، د تار لیږدونه (Wire transfers)، د اې ټي ایم ماشینونو(Automated Teller Machines (ATMs، ډبیټ کارتونه (Debit cards)، د تلیفون د تادیې سیستمونه (Pay-by-phone systems ) او پرلیکه بانکوالي(Online banking) دي.

## د تليفون بانكوالي

د تليفون بانكوالي يو ډول خدمت دی چې د بانک او يا مالي ادارو له خوا وړاندې كيږي. دا بانكوالي پيريدونكو ته دا وړتيا وركوي چې خپلې مالي معاملې پرته له دې چې بانك ولاړ شي د تليفون له لارې ترسره كړي.
د تليفون بانكوالي په ۱۹۸۰ زيږديز كال كې په سوداګريزه توګه منځ ته راغله او په لومړي ځل د ګيرو بانك (Girobank) په انګلستان كې ورڅخه ګټه اخيستنه شروع شول.

دا بانكوالي د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ زيږديز كلونو تر منځ ډېره مشهوره بانكوالي وه. كله چې په ۲۰۰۰ زيږديز كال كې د انټرنټي بانكوالۍ پراختيا مخ پر زياتيدو شوه، نو له تليفون بانكوالۍ ګټه اخيستنه ورسره كميده، خو په۲۰۱۰ زيږديز كال كې بيخی له پامه وغورځيده.

## د بِل تاديه

د بِل تاديه يوه داسې آسانتيا ده چې د ډيجيټل بانكوالی له لوري خپلو پيريدونكو ته وړاندې كيږي، ترڅو دوی وكولای شي چې د برېښنا بِل، د اوبو بِل، د تليفون بِل، د بيمې د تحويلۍ او داسې نور بِلونه د خپل كور څخه پرته له دې چې د بانك څانګې ته ولاړ شي، تحويل كړي.
دا يوه تګلاره ده چې بانك د خپلو پېرودونكو لپاره جوړه كړې ده. د بانك پېرودونكي كولای شي چې د بانك د ويب سايټ او يا هم اپليكيشن له لارې خپل بِلونه تحويل كړي. هېره دې نه وي چې هر بانك يوه ځانګړې تګلاره لري.

## آنلاين يا پرليكه پېرودنه

پرليكه پېرودنه يوه پروسه ده چې خلك كولای شي د خپل كور او يا دفتر څخه په بازار كې توكي واخلي. دا په دې مانا چې دوي كولاي شي د انټرنټ له لارې يو څه توكي واخلي او پيسې يې د ډيبيټ كارت، كريډيټ كارت او يا هم د محصول له ترلاسه كولو وروسته تحويل كړي.

دا په دې مانا نه ده چې تاسو يوازې بايد يو څه رانيسئ، تاسو كولای شئ چې په يو څيز پسې داسې پلټنه وكړئ، لكه په يو ماركيټ كې ضروري نه ده چې تاسو بايد هر وخت سودا وكړي تاسو كولای شئ چې پر ليكه پېرودنه كې يوازې يو څه وګورئ.

په دې وروستيو كې د افغانستان په لويو ښارونو كې هم د پرليكه پېرودنه ډېره شوې ده، خو د افغانستان حالاتو ته په كتلو اوس هم ځينې ننګونې شتون لري.

يو شمېر نور خدمتونه چې د ټكنالوژۍ په مرسته پر مخ وړل كيږي په لاندې ډول دي:

پرليكه د ټكټ كول (online Ticket Booking)، د موبايل حساب ته پيسې زياتول (Mobile Recharge)، د يو كارت څخه بل كارت ته پيسې استول (Card to card Funds Transfer) او داسې نور خدمتونه شته چې په بانكي سيستم كې د ټكنالوژۍ په مرسته پر مخ وړل كيږي. كه په لنډه توګه ووايو په يويشتمه پيړۍ كې به د بانك نږدې ټول خدمتونه د ټكنالوژۍ په مرسته وړاندې كيږي.

---


سرچينې:

1 - Role of IT in Banking Information Technology Essay
https://www.ukessays.com/essays/information-technology/role-of-it-in-banking-information-technology-essay.php

2 - Phone Banking https://www.paisabazaar.com/banking/phone-banking/

3 - BILL PAYMENT https://docs.oracle.com/cd/E79009_01/webhelp/Content/obdx/corporate/payments/billpayment.htm



# نمایشگاه ها؛ مراکز تبادل اطلاعات و معرف اموال تجاری

نمایشگاه ها عبارت از مراکز تبادل اطلاعات اند که بخاطر جهش صادرات اموال گوناگون، حرکت بسوی توسعۀ اقتصاد باز، نگاه دقیق به خواسته ها و علایق مشتریان، بررسی سلیقه های آنها و دستیابی به تکنالوژی روز دنیا تدویر و برگزار می گردند.

در نمایشگاه ها، فضای مناسبی جهت به نمایش گذاشتن توانمندی ها، دستاورد های بخش های مختلف تولیدی، خدماتی و پیدا کردن ارتباط مستحکم با مصرف کننده، مشتری و سایر فعالان مختلف صنعت و اقشار مختلف مردم به میان می آید.

حضور نماینده های تولید کنندگان در نمایشگاه ها یکی از مهمترین ابزار توانمندی آنها در جهت توسعه صادرات و مراودات تجاری محسوب می گردد. آنها می توانند در نمایشگاه ها با تمرکز روی کالاهای دارای مزیت و کیفیت خوب و مشتریان هدفمند، بطور بسیار مؤثر بهره برداری نمایند.

حضور نماینده های تولید کنندگان در نمایشگاه ها یکی از مهمترین ابزار بازاریابی های جدید، ارزیابی بازارهای موجود و نوعی خود ارزیابی از وضعیت بازار های داخلی و خارجی بشمار می رود. به همین علت کشور های مانند امریکا، چین، فرانسه، آلمان، انگلستان، ایتالیا، هسپانیا، برازیل، هالند، کانادا، روسیه، بلجیم، سویس، مکزیک، مکزیکو و ترکیه بیشتر نمایشگاه های صنعتی را دایر می نمایند و در جهان از جملۀ پیشتازان برگزار کنندگان نمایشگاه های بین المللی بشمار می روند.

در شرایط کنونی، نمایشگاه ها یگانه ابزار مهم برای مصرف کنندگان تولیدات داخلی و خارجی و همچنان بهترین راهکار مناسب برای مصرف کنندگان تولیدات مبدل شده است. از طرف دیگر نمایشگاه ها مکان مناسبی برای جمعاوری اطلاعات علمی، تجاری و رقابت میان شرکت های مختلف نقش اساسی دارند. در این مکان، تولید کنندگان بیشتر به نقاط ضعف و قوت تولیدات خود پی برده و در رقابت با سایر شرکت های رقیب متوجه رفع هر چه بیشتر نواقص خود می شوند.

با توجه به موارد فوق، افغانستان نیز می تواند با در نظر داشت ارزش نمایشگاه ها از وابستگی های وارداتی کشورهای دور و نزدیک نجات یافته و سیاست جایگزینی صادرات تولیدات زراعتی و فرآورده های مواد معدنی را برای تأمین ارز مورد نیاز خود از طریق تشویق صنایع داخلی به تولید و صدور کالاها به دیگر کشور ها را روی دست گیرد. همچنان از نمایشگاه

»



های داخلی و بین المللی به عنوان یکی از کانال های معرفی کالا ها به سایر کشور ها و جذب تکنالوژی نوین جهانی استفاده کند.

برگزاری نمایشگاه های بین المللی می تواند به تبادل اطلاعات فنی و تجارتی و گسترش مبادلات تجاری، معرفی آخرین دستاوردهای علمی و صنعتی، گسترش همکاری های ملی و بین المللی و فراهم سازی تسهیلات رشد بخش های مختلف اقتصادی، معرفی کالاهای غیر نفتی در جهت رشد و توسعه صادرات این کالاها کمک نماید.

آشنا سازی تولیدکنندگان با معیارهای بین‌المللی تولید و صدور کالاها و ارتقای سطح کمی و کیفی تولیدات با رعایت قوانین و استندردهای بین‌المللی و نیز آشنایی با آخرین تکنالوژی و دستاوردهای روز دنیا میتواند در پیشرفت علمی و صنعتی کشور نقش تعیین کننده ای ایفا کند. همچنین شناختن پیشرفت های اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و هنری کشور به جهانیان و نمایش قدرت تولیدی کشور از مولفه های مهم در این راستا بشمار میروند.

بدون تردید ارزش حضور در یک نمایشگاه را نمی توان با ارزش قراردادهایی که منعقد می شود، ارزیابی کرد، بلکه یکی از مهمترین دستاوردهای هر نمایشگاه را ارتباطات مؤثر، گسترده و پایداری آن تشکیل میدهد که در نمایشگاه ها شکل می گیرد و منجر به همکاری های گسترده و دراز مدت می شود. همچنان تدویر نمایشگاه ها و اشتراک در آن بر علاوه گفت و گوهای بین ملل ها و فرهنگ ها، به رشد صادرات و رونق اقتصاد کشور نیز کمک شایانی خواهد کرد.

در نتیجه می توان گفت که نمایشگاه های بین المللی به عنوان مکان سازمان یافته به منظور افزایش تجارت برای استفاده بهتر از منابع ملی، پیشرفت فنی، کاهش بیکاری، گسترش بازار به آن سوی مرزها و افزایش درآمدهای ارزی با نمایش محصولات و پیشرفت های جدید، توسعه بازار، اخذ نمایندگی و سفارش و فروش کالاها، تغییر باورها، بازاریابی و شناسایی بازارها، نقش کلیدی در رفاه و رشد اقتصادی یک کشور دارد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- https://sid.ir / اطلاعات شماره ۲۹۰/ عنوان / شناسایی عوامل مؤثر بر موفقیت نمایشگا ه های بین المللی ( صادراتی) ۸/۲/۱۳۸۷ / نویسند گان/ طاهر پور کلانتری حبیب الله و میر ظفر جویان سید حسن

۲- /fa.wikipedia.org › wiki ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد نمایشگاه ۳- www.rokhdadnama.com نمایشگاه های دسته بندی صنعت

# اقتصادي خبرونه



## د پاکستان– افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ د ټولنې ګډه غونډه

په اسلام‌آباد کې د پاکستان او افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ د ټولنې ګډه غونډه د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم له پنځمې تر شپږمې نېټې پر لاره واچول شوه.

دغه غونډه « د افغانستان او پاکستان د دوستۍ د پارلماني ګروپونو» له خوا د اسلام‌آباد په ښار کې جوړه شوې وه. په دې دوه ورځنۍ برنامه کې، د پاکستان لومړي وزير عمران خان او د پاکستان د پارلمان رييس اسد قيصر او د پاکستان د مشرانو جرګې رييس او د افغانستان د پارلمان رييس مير رحمان رحماني او د افغانستان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د اوبولګولو او طبيعي سرچينو مرستيال حشمت الله غفوري خبرې وکړې.

د دې غونډې د خبرو اترو اصلي محور د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزيت او سوداګريزو ستونزو ته د حل لار پيداکول و.

ټاکل شوې چې د پاکستان – افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ د ټولنې دويمه غونډه به کابل ته د پاکستان د پارلماني ګروپ د سفر په ترڅ کې، د روان کال په نومبر کې په لاره واچول شي.

## عضویت مجدد افغانستان در سازمان شفافیت صنایع استخراجی

وزارت معدن و پترولیم می‌گوید که افغانستان برای بار دوم عضویت سازمان ابتکار شفافیت صنایع استخراجی (EITI) را به دست آورده است.

هارون چخانسوری، سرپرست این وزارت نهم عقرب سال روان در صفحهٔ فیس بوک خود نگاشته است که وزارت معادن و پترولیم، ضمن اصلاحات در تصدی ها و تأمین شفافیت در پروسه اعطای قراردادها و جوازها، جلسات منظم گروپ چندجانبه (MSG) متشکل از مسئولین حکومت، جامعه‌مدنی و سکتور خصوصی را انجام داده و در تکمیل نمودن

معیارهای پروسه دوم اعتباردهی، پیشرفت های چشمگیر بدست آمده است.

محترم چخانسوری گفته است که این وزارت برای تطبیق سفارشات سازمان ابتکار شفافیت صنایع استخراجی تلاش کرده و متعهد باقی خواهند ماند.

افغانستان برای نخستین بار در سال ۲۰۱۰ میلادی عضویت سازمان بین‌المللی ابتکار شفافیت صنایع استخراجی را به دست‌آورده بود، اما این سازمان در سال ۲۰۱۷ عضویت این کشور را به حالت تعلیق در آورد.

این سازمان با تعلیق عضویت افغانستان، دلیل این تصمیم را بی مدیریتی در سکتور معادن و بی توجهی حکومت افغانستان در تطبیق معیارهای این سازمان اعلام کرده بود.

## په ۲۸ ولایتونو کې د پستې زر هکټاره بڼونه جوړ شوي دي

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د روان مالي کال له پیل څخه تر دې دمه په ۲۸ ولایتونو کې د پستې د زر هکټاره بڼونو د جوړولو په پار د پستې تخمونه وېشلي دي.

په همدې توګه د روان مالي کال په ترڅ کې د غزني، دغه بڼونه د کابل، غزني، وردګ، لوګر، بامیان، دایکندي، پکتیا، بلخ، جوزجان، سرپل، سمنګان، بغلان، بدخشان، تخار، فاریاب، کندز، ننګرهار، کونړ، لغمان، هرات، پکتیکا، ارزګان، کندهار، هلمند، فراه، بادغیس، نیمروز او زابل په ولایتونو کې جوړ شوي دي.

لوګر، پکتیا، بلخ، جوزجان، سرپل، سمنګان، بغلان، بدخشان، تخار، فاریاب، کندز، ننګرهار، کونړ، لغمان، هرات، خوست، پکتیکا، ارزګان، کندهار، هلمند، فراه، بادغیس او زابل په ولایتونو کې د پستې ۲۸۵ هکټاره بڼونه هم پیوندیږي. د دغو بڼونو د پیوند لړۍ پیل شوې ده او دکال تر پایه تمامیږي.



سرچینې:

۱- صدای امریکا https://www.darivoa.com/a/afghan-gov-says-Afghanistan-achieves-transparency-despite-barriers/5641422.html

۲- د پاکستان-افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ د ټولنګړه غونډه په اسلام‌آباد کې په لاره واچول شوه https://www.mail.gov.af/index.php/ps/%

۳- په ۲۸ ولایتونو کې د پستې زر هکټاره بڼونه جوړ شوي دي https://www.mail.gov.af/index.php/ps



# مهار آب کشور؛ زمینه ساز آینده درخشان

دریای کوکچه



دریای کابل



دریای پنجشیر

یکی از مهم ترین سرمایه های ملی کشور، دریاهای خروشان و آب های شیرین است که در صورت مدیریت دقیق آن نه تنها کشور از لحاظ زراعت و انرژی به خود کفایی خواهد رسید، بلکه میتوان انرژی برق را به کشورهای دیگر صادر نمود. وطن ما دارای چندین صد رود کوچک و بیشتر از ۲۵ دریای بزرگ می‌باشد.

**آب‌های افغانستان به پنج حوضه تقسیم شده اند:**

- حوضهٔ دریای آمو ( آمو دریا): متشکل است از رودهای واخان، کوکچه، قندوز، اندراب و خنجان.
- حوضهٔ رود شمال: متشکل است از رودهای بلخ آب و سرپل
- حوضهٔ رود غربی: متشکل است از رودهای هریرود، مرغاب، شیرین تگاب، کشک ادرسکن، کوشان، قیصار، گلران، خاشرود
- حوضه هلمند: هلمند متشکل است از رودهای ارغنداب غزنی، ترنگ ارغستان و موسی‌قلعه
- حوضه کابل: متشکل است از رودهای گلبهار، پنجشیر، کابل، لوگر، کنر، علیشنگ و علینگار

»

در حال حاضر، افغانستان فقط با کشور ایران قرارداد «حق‌آبه» را به امضاء رسانده است، اما متباقی حوزه‌های آبی فرامرزی بدون استفاده داخلی به کشورهای هم‌جوار سرازیر می‌شود و این کشورها از آن برای شکوفایی اقتصادی، رشد صنعت و رفاه مردم‌شان سود می‌برند.

براساس پژوهش‌های صورت گرفته، افغانستان با داشتن ۵۷ میلیارد متر مکعب آب در سال، فقط از ۳۰ درصد آن استفاده می‌کند و هفتاد درصد آن به کشورهای هم‌جوار سرازیر می‌شود. هر چند منازعات آبی بین افغانستان و کشورهای همسایه عمیق و پیچیده می باشد، اما حل این مشکل و استفاده از این منابع و صادر کردن آن به کشورهای همسایه می تواند یک حوزه مهم در تقویت همگرایی اقتصادی به حساب آید.

فروش آب های افغانستان به کشورهای همسایه مانند ایجاد فرصت های فراوان برای ترانزیت و تجارت می تواند نقش ستراتیژیک کشور را در منطقه تقویت بخشد و افغانستان را با کشورهای همسایه و کشورهای دیگر وصل نماید. باید یادآور شد که این زمانی ممکن است که دولت افغانستان در مقام صادر کننده منابع آب با کشورهای همسایه در مورد مکانیزم استفاده از این آب ها به توافق برسد، توافقی که در آن قسمت مورد ضرورت این آب ها در داخل مورد استفاده قرار گرفته و صادرات آب افغانستان به صورت رایگان پایان یابد.

رسیدن به چنین توافقی هرچند دشوار به نظر می رسد، ولی یکی از اولویت های مهم توسعه برای افغانستان به حساب می آید.

زیرک ملیا



دریای سروبی



دریای علیشنگ



دریای هلمند


منبع:

۱ - آب‌های افغانستان؛ از سرمایه پول تا سرمایه جان/ هشت صبح

https://8am.af/afghan-waters-from-the-capital-of-money-to-the-capital-of-life/

۲ - رابطه میان آب و توسعه اقتصادی درافغانستان/ دویچه ویله

https://www.dw.com/fa-af

# د نړۍ لس بډایه کسان وپېژنئ

ژباړه او راټولونه
حسیب الله نوري



**۱- جیف بیزوس - امریکا**

جیف بیزوس په ۱۹۹۴ز پېردیز کال کې د اي کامیرس امازون پر نامه شرکت جوړ کړ او لا هم د یاد شرکت مشري کوي. د فوربس په وینا جیف بیزوس ۵۶ کلن دی. نوموړی د نړۍ تر ټولو بډایه سړی دی. که څه هم په تېر دوبي کې یې له خپلې پخوانۍ میرمنې مک کینزي څخه طلاق واخیست او د خپل امازون شرکت څلورمه برخه یې هغې ته ورکړه، خو بیا هم هغه د ۲۰۲۰ز پېردیز کال د مارچ په میاشت کې د نړۍ تر ټولو شتمن کس اعلان شو. د نوموړي پانګه دا مهال ۱۱۳ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسېږي.



**۲- بیل ګېټس - امریکا**

بل ګېټس ۶۴ کلن او د مایکروسافت د کمپنۍ بنسټ ایښودونکی دی او لا هم د دې کمپنۍ مشري پر غاړه لري. په روان ۲۰۲۰ز پېردیز کال کې ټوله شتمني یې ۹۸ میلیارد امریکایي ډالره ښودله شوې ده او دې شتمنۍ نوموړي ته د نړۍ د دویم لوی شتمن کس نوم ورکړی دی. دا مهال ګېټس او د هغه میرمن میلینا ګېټس دواړه د بیل او میلینا په نوم د نړۍ د ستر خیریه بنسټ مشري کوي.



**۳- د برنارډ آرنولټ کورنۍ - د LVMH شرکت رئیس او عامل پلاوی - فرانسه**

برنارډ آرنولټ ۷۱ کلن او د نړۍ دریم شتمن کس دی. ټوله شتمني یې ۷۱ میلیارد امریکایي ډالره ښودله شوې ده. نوموړی په نړۍ کې د سینګار توکو تر ټولو لوی اختراع کوونکی دی او دا مهال د لوئیس ویټون او سیفورا په ګډون د ۷۰ پېژندل شویو برانډونو د لویې کمپنۍ د څار دنده پرمخ وړي.



**۴- وارن بافت - امریکایي**

وارن بافت ۸۹ کلن دی او دا مهال ۶۷.۵ میلیارده امریکایي ډالره شتمني لري. وارن بافت یو ښه پانګهوال دی او برکشایر هاټ آوې په نوم نږدې ۶۰ کمپنۍ اداره کوي. د فوربس د معلوماتو له مخې بافت د نړۍ څلورم شتمن کس دی.

»



**۵- لاري آلیسون -امریکا**

لاري آلیسون ۷۵ کلن دی او ۵۹ میلیارده امریکایي ډالر شتمني لري. نوموړي په ۱۹۷۷ زیږدیز کال کې اورکل په نوم د سافت ویر کمپنۍ جوړه کړه او تر دې مهاله د یادې کمپنۍ د مشر په توګه دنده تر سره کوي. نوموړئ د نړۍ ۵ لوی شتمن کس دی.



**۶- امانسیو اورتیګا -هسپانیا**

امانسیو اورتیګا ۸۴ کلن دی. دا د نړۍ شپږم شتمن کس دی او د شتمنۍ کچه یې ۵۵.۱ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسیږي. نوموړي په ۱۹۷۵ زیږدیز کې له خپلې پخوانی میرمنې سره د اینډیټکس په نامه د جامو جوړولو کمپنۍ جوړه کړه او دې یادې کمپنۍ لباسونو د موډ یا فیشن په برخه کې ډېر شهرت وموند.



**۷- مارک زاکربورګ -امریکا**

مارک زاکربورګ ۳۵ کلن او د نړۍ اووم شتمن کس دی. نوموړي په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې د فیسبوک ټولنیزه رسنۍ جوړه کړه او دا مهال یې د شتمنۍ کچه ۵۴.۷ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسېدلې ده.



**۸- جیم والټن -امریکا**

جیم والټن د نړۍ اتم شتمن کس دی. ۷۱ کلن دی او د شتمنۍ کچه یې دا مهال ۵۴.۶ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسېدلې ده. نوموړی د والمارټ په نوم د لباس موډ او فیشن جوړولو په نوم کمپنۍ لري.



**۹- الیس والټن -امریکا**

الیس والټن ۷۰ کلنه ده. نوموړې یوه ښځه ده چې د نړۍ په لسو شتمنو کسانو کې یې نوم راغلی دی. نوموړې د نړۍ په لسو شتمنو کسانو کې نهم نمبر مقام را خپل کړی دی. د نوموړې شتمني دا مهال ۵۴.۴ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسیږي او د والمارټ په نوم د جامو جوړونې او فیشن په برخه کې کار کوي.



**۱۰- راب والټن -امریکا**

راب والټن ۷۵ کلن دی. نوموړی د والمارټ کمپنۍ د بنسټ ایښودونکي سام والټن زوی دی. دا مهال یې شتمني ۵۴.۱ میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسېدلې ده. راب والټن له ۱۹۹۲ تر ۲۰۱۵ د والمارټ په نوم د جامو جوړونې او فیشن کمپنۍ د ریاست چارې پر غاړه درلودې.

1- 10richest billionaires in the world in 2020 2- https://tbsnews.net/world/10-richest-billionaires-world-2020-145480
3- WORLD'S BILLIONAIRES LIST/ The Richest in 2020 4-https://www.forbes.com/billionaires/ 5- THE WORLD'S REAL-TIME BILLIONAIRES
6- https://www.forbes.com/real-time-billionaires/#551fb5be3d78



# د اوبولګولو نوې لارې چارې؛

## د هېواد د کرنې ودې ته لاره هواروي

د کرنې په برخه کې له لمريزې برېښنا ګټه اخيستنه له تېرو څو کلونو را په دېخوا په هېواد کې دود شوې ده او بزګران د هېواد په بېلابېلو سيمو کې له

دې ډول لمريزې برېښنا د خپلو کرنيزو ځمکو د خړوبولو لپاره ګټه پورته کوي.

افغانستان په کال کې درې سوه لمريزې

ورځې لري او دې ځانګړتيا په ياد هېواد کې د لمر له انرژۍ څخه د برېښنا توليد ته لاره هواره کړې. د بزګرانو لپاره له لمريزې برېښنا ګټه اخيستنه او د دې

»

برېښنا پر بنسټ د څمکو خړوبول د بل هر ډول برېښنا په پرتله اقتصادي تمامېږي او بزګران کولای شي په لږ لګښت سره ډېر عواید تر لاسه کړي.

د دې ولایت د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره په یو شمېر ولسوالیو کې یوه اندازه للمي او شاړې ځمکې د لمریزې برېښنا پر مټ خړوبې شوې دي او ټاکل شوې او بښوالو په او اقتصادي وضعیت کې مثبت بدلون رامنځته شي او دا پروژه به په یاد ولایت او په ټوله کې به د هېواد د اقتصادي رغښت په برخه کې ګټوره تمامه شي.



باید وویل شي چې د دې پروژې په پلي کېدو سره د هغو ځمکو ستونزه د تل لپاره حل شي چې له دې وړاندې ورته اوبه نه رسېدې او له همدې کبله له حاصل څخه پاتې شوې وې.

افغان حکومت په دې وروستیو کې د کرنې د ودې، د کرنیزو حاصلاتو د زیاتوالي او د بزګرانو د عوایدو د ډېرولو لپاره د للمي او شاړو ځمکو د خړوبولو نوې لارې چارې رامنځته کړې دي. افغان حکومت په یو شمېر ولایتونو کې بزګرانو او بښوالو ته د ځمکو د خړوبولو لپاره د لمریزې برېښنا آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

د دغو ولایتونو له ډلې یو هم د کونړ ولایت دی. دا مهال د کونړ په ولایت کې پر څه باندې ۱۸ زره هکتاره اوبیزې او څه باندې شپږ زره هکتاره للمي ځمکې باندې کرکېله کېږي.

ده چې ډېر ژر به د دې ولایت ۴۰۰ جریبه نورې للمي او شاړې ځمکې هم پر لمریزې برېښنا خړوبې شي.

دغه پروژه د حکومت له خوا د کونړ ولایت په لاهوري ډاک کې پلي کېږي چې د سرکانو، مرورې او نرنګ ولسوالۍ دي او پر یادې پروژې به ۹۱.۲ میلیونه افغانۍ لګښت راشي.

باید وویل شي چې یادې ځمکې له دې مخکې د للمي په ډول کرل کېدې او د اوبو د نشت له کبله له یادو شاړو ځمکو هېڅ حاصل نه تر لاسه کېدل.

تمه ده چې د دې اقتصادي پروژې په پلي کېدو سره به د بزګرانو، کروندګرو

افغانستان چې ډېرې شاړې ځمکې لري او اوبه هم نه لري، تمه ده چې حکومت به د لمریزې برېښنا د تولید برخې ته پاملرنه زیاته کړي او په دې وسیله به یادې شاړې ځمکې پر کرنیزو ځمکو بدلې کړي او له دې لارې به د عوایدو زیاتوالي ته لاره هواره کړي.

باید وویل شي چې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره له لمریزې برېښنا ګټه اخیستل شوې ده او افغان بزګران هم کولای شي چې د خپلو شاړو ځمکو د خړوبولو لپاره د یادو هېوادونو له تجربو ګټه پورته کړي.

حسیب الله نوري

سرچینې:

۱ – د اوبولګولو نوي لارې چارې: کونړ کې۴۰۰جریبه ځمکه د لمریزې برېښنا له لارې خړوبیږي د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۹/۷/۱۴ https://www.mail.gov.af/index.php/ps

۲ –ولایت کنر/ ولسوالی ها و اقلیم https://fa.wikipedia.org/wiki/%D9%88%D9%84%D8%A7%DB%8C%D8%AA_%DA%A9%D9%86%D8%B1



# د نیمروز ولایت د مالوچ ( پنبې) په حاصلاتو کې لس سله زیاتولی

سږ کال د نیمروز ولایت مالوچو په حاصلاتو کې د لیدنې وړ زیاتوالی راغلی دی. ددغې ولایت د مالوچو د کروندو ارزونې ښیي چې د مالوچو سږني حاصلات به پنځه زره ټنو ته ورسیږي چې دا کچه د تېرکال په پرتله نږدې لس ځله زیاتوالی ښيي او تېرکال ددې ولایت د مالوچو حاصلاتو ۵۶۰ ټنه وو.

سږکال د نیمروز ولایت په دوه زره او ۲۵۰ هکټاره ځمکه مالوچ کرل شوې چې له دې لارې به څه باندې پنځه زره ټنه مالوچ تر لاسه شي. په نیمروز ولایت کې د مالوچو کرکېلې ته د خلکو لېوالتیاپه دې وروستیو کې مخ پر زیاتېدو ده او اوس د دې ولایت د چهاربرجک او خاشرود پر ولسوالیوسربېره په یوشمېر نورو سیمو کې همملوچ کرل کیږيچې هرکال یې په تولید کې زیاتوالی راځي.۱

د دولت له لوري په دې ولایت کې د مالوچ دکرکېلې د ودې او پراختیا په پار پر بزګرانو د مالوچو اصلاح شویو تخونو، کیمیاوي سرې، داړتیا وړ درمل او نورو اړینو توکو وېش او ترڅنګ یې بزګرانو او کروندګرو ته د مالوچود نندارېزو قطعوجوړېدلد دې لامل شوي دي چې په یاد ولایت کې د مالوچو په حاصلاتو کې زیاتوالی راشي.

»

د مالوچو د کروندو خړوبول، د غنمو او یو شمېر نورو کرنیزو توکو په پرتله کمو اوبو ته اړتیا لري چې د غبرګولي په میاشت کې کرل کېږي او د وړي په وروستیو کې حاصل ورکوي. ۲

افغان بزګران او کروندګر له ډېر پخوا راهیسي مالوچ کري او یو وخت افغانستان په سیمه کې لهمالوچو د سپنسیو او نخي د کالیو ستر تولیدوونکی هېواد وو او نړیوالو هېوادونو ته یې د مالوچو د حاصلاتو د دې کرنیز محصول صادرات درلودل.

تمه ده چې په هېواد کې د دې کرنیز محصول د حاصلاتو زیاتوالی به یو ځل بیا د افغان صادراتو په لوړوالي کې مرسته وکړي او د هېواد د اقتصادي ودې لامل به شي.

**نیمروز، پروان، کونړ، ارزګان، فاریاب، هرات، بغلان، جوزجان، کندز، لغمان، تخار، کاپیسا، ننګرهار، بلخ، سمنګان، سرپل، هلمند او کابل هغه ولایتونه دیچې مالوچ په کې کرل کېږي.**

له مالوچو څخه له غوړو نیولي بیا تر کالیو پورې توکې تولیدیږي او خپله د مالوچو بوټي کېدای شيچې د سون موادو، غوړیو، کنجاړې د تولید او یا هم د نورو بوټو لپاره د کیمیاوي سرې په توګه وکارول شي.

که څه هم افغانستان دا مهال له مالوچو څخه یو شمېر تولید شوي توکران بهر ته هم صادروي، خو لا هم په کور دننه د مالوچود پروسس په برخه کې یو شمېر ستونزې شته چې د هغو په هوارولو سره به یې په دې برخه کې لازم پرمختګونه رامنځته شي.

افغان بزګران لا هم د مالوچو حاصلات د پروسس لپاره بهرنیو هېوادونو ته استوي او له پروسس وروسته بېرته خپل هېواد ته راوړل کېږي. دا چاره د دې لامل شوې ده چې بزګران د پروسس په برخه کې له ستونزو سره لاس او ګریوان شي او له دې لارې کمه ګټه تر لاسه کړي.

له نیکهمرغه چې په دې وروستیو کې د هلمند د بُست د مالوچو د پروسس کولو کارخونه له څو کلونو څنډ وروسته یو ځل بیا فعاله شوې ده. تمه ده چې د دې کارخونې په فعالیت سره به افغان بزګران د مالوچو کرکیلې ته مخه کړي.

معلومات ښيي چې د بُست د ټوکرانو په کارخونه کې په کلني ډول د ۳۰ زره ټنه مالوچو د پروسس او چاڼ چارې تر سره کېدای شي. هغه مهال چې د هلمند د بُست د نساجۍ او ټوکرانو د اوبدلو فابریکه فعاله وه او له کاره نه وه لوېدلې په یاده فابریکه کې ډېر شمېر هېوادوالو ته د دندو زمینې برابرې وې.

دا چې یو ځل بیا په یاد ولایت کې د دې فابریکې فعالیتونه پیل شوي دي، تمه ده چې په دې سره به ډېر شمېر هېوادوالو ته د دندو زمینې برابرې شي او دا چاره به د هېواد پر اقتصادي وضعیت مثبت اغېز وکړي.

حسیب الله نوري

سرچینې:

۱ - نیمروز کې د پنبې حاصلات نږدې لس چنده زیاته شوې۱،۲ https://www.mail.gov.af/ps/

۲–افغان چارواکي: سږ کال د پنبې حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی۳ / آزادی رادیو/ جوزا ۲۷، ۱۳۹۹ https://da.azadiradio.com/a/30673395.html



# مختصری در مورد سرمایه گذاری

سرمایه گذاری بهترین وسیله برای کسب دارایی است و با گذشت زمان می توان از آن درآمد بدست آورد. در کُل می توان گفت که سرمایه گذاری عبارت از آن دارایی است که برای ما درآمد حصول می کند و سرمایه است که در کنار دیگر موارد، رفاه خوبتر را برای ما مهیا می سازد.

با توجه به دنیای اقتصاد، در شرایط کنونی اغلب افراد به آینده شان توجه داشته و تلاش می ورزند تا رفاه بیشتر را برای آیندهٔ خود فراهم نمایند. آنها به این نتیجه رسیده اند که باز نشستگی نمی تواند آیندهٔ آنها را تضمین نماید، روی همین امر آنها بخشی از درآمد فعلی شانرا سرمایه گذاری مینمایند. در این عرصه بیشتر مردم مخارج ضروری شانرا اولویت بندی می نمایند، زیرا آنها فهمیده اند که نمی توان هم پول خود را خرج کرد و هم از آن پس انداز کرد.

اقتصاد دانان جهان سرمایه را به سه بخش تقسیم کرده اند که قرار ذیل به آنها اشاره می گردد:

**سرمایه گذاری مالکیتی**: زمانی که حرف از سرمایه گذاری به میان می آید، اولین

»

چیزی که در ذهن انسان ها خطور می کند، در تملک قرار گرفتن چیزی می باشد. این نوع سرمایه گذاری هم خطر بیشتر و هم منفعت بیشتر را در قبال دارد و به بخش های مختلفی تقسیم گردیده است.

سرمایه گذاری در سهام، کسب و کار، کالاهای گران قیمت و املاک و زمین از جمله سرمایه گذاری های ملکیتی می باشند که قرار ذیل روی هر یک از آنها به شکل مختصر پرداخته می شود.

- سرمایه گذاری در سهام عبارت آن سرمایه گذاری است که بر اساس آن مالک سهمی در یک شرکت و یا در کار خانه می شویم. به همین ترتیب، بر اساس آن سهم خود را از ارزش بازاری آن شرکت تصاحب می نماییم که در این بخش می توان اوراق بهادار را نوعی از سرمایه گذاری مالکیتی شمرد.
- نوع دیگر آن سرمایه گذاری در کسب و کار است که میتوان از آن عاید و یا درآمد خوبی حصول کرد.
- سر مایه گذاری در کالاهای گران قیمت هم یک نوع سرمایه گذاری می باشد. در میان کالاهای گران قیمت طلا، جواهرات، آثار عتیقه و کمیاب خریدار بیشتر دارد و امکان سرمایه گذاری بالای آنها موجود است.
- شکل دیگر سرمایه را میتوان سرمایه گذاری در املاک و زمین گفت. در این نوع از سرمایه گذاری میتوان در بخش های مختلف ملک و زمین چون اجاره و بازسازی آن سرمایه گذاری کرده و عاید خوبی حصول کرد.

**سرمایه گذاری اعتبار دهی**: فعالیت این نوع سرمایه گذاری مشابه به فعالیت بانک بوده، نسبت به سایر سرمایه گذاری ها بخصوص سرمایه گذاری مالکیتی، خطر کمتر دارد که به همین علت منفعت آن نیز کمتر می باشد.

**حساب پس انداز**: برای هر فرد داشتن حساب پس انداز یک نوع سرمایه گذاری است، زیرا بیشتر اوقات بانکها بر اساس مدت زمان سپرده ها با درصدی مشخص، به سرمایه گذار درصدی مشخص از فایده می دهد و این نوع سرمایه گذاری بدون خطر می باشد.

**اوراق بهادار**: اوراق بها دار نیز یکی از بخش های عمدهٔ از سرمایه گذاری می باشد که شامل اوراق خزانه داری، وام های بین المللی و اوراق شرکت ها می شود.

**سرمایه گذاری نقدی**: این نوع از سرمایه گذاری به شکل پول نقد بوده، به آسانی قابلیت نقد شدن را دارد و فایدهٔ آن به آسانی بدست می آید.

باید خاطر نشان ساخت، هر آن چیزیکه به اثر استفاده به مرور زمان دچار خرابی و استهلاک می شود، به حساب سرمایه گذاری نمی آید، مانند خرید تلویزیون، موتر و ماشین آلات کهنه که به مرور زمان در اثر استفاده دچار افت قیمت می گردند.

عبدالحفیظ شاهین


منابع:

1- ‹ www.chetor.com سرمایه گذاری چیست و چه مدل‌هایی دارد؟ تاریخ نشر / 16 / 7 / 1396

2- http://www.fra.gov _– /الرقابه المالیه تمد مده عمل تأسیسیه اتحاد اوراق المالیه /تاریخ نشر / 21 / 9/ 2000

3- www.intelligenteconomist.com ‹ economic-systems Economic Systems | Intelligent Economist تاریخ نشر 1 / 2/ 1399



# تدویر برنامه آموزشی برای صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی هرات

د افغانستان بانک برنامه آموزشی را در رابطه به نحوه فعالیت صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی و مزایای جواز شرکت صرافی و خدمات پولی از تاریخ ۳-۷ عقرب ۱۳۹۹ برای تعداد از صرافان و عرضه کنندگان خدمات پولی ولایت هرات راه اندازی نمود.

هدف راه اندازی این برنامۀ آموزشی را ارتقای ظرفیت صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی در رابطه به قوانین و مقررات د افغانستان بانک و آگاهی در خصوص تغییر ساختار حقوقی صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی به شرکت و همچنان مزایای جواز شرکت صرافی و خدمات پولی تشکیل میداد.

در آغاز این برنامه محترم عبدالقدیر رحیمی معاون زون غرب د افغانستان بانک در مورد هدف و اهمیت تدویر این برنامه آموزشی برای صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی معلومات ارائه نموده و از رهبری د افغانستان بانک و هیئت توظیف شده غرض تدویر این برنامه اظهار امتنان نمود. موصوف از تمام صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی زون غرب خواست تا با تیم نظارتی د افغانستان بانک حین نظارت و بررسی امور مربوطه همکار باشند.

سپس محترم شفیق الله شینواری معاون بخش جوازدهی آمریت نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی د افغانستان بانک در رابطه به چگونگی راه اندازی نظارت ها، اهداف نظارت ها، مسئولیت ها، مکلفیت ها و صلاحیت های تیم نظارتی و فعالیت های مُجاز و ممنوعه صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی توضیحات لازم را ارائه نمود.

متعاقباً، محترم حاجی بهاوالدین رحیمی رئیس صرافان ولایت هرات در مورد اهمیت تدویر این برنامه آموزشی صحبت نموده و از راه اندازی این برنامه برای صرافان آن ولایت، از هیئت رهبری د افغانستان بانک ابراز امتنان نمود.

وی افزود که راه اندازی همچون برنامه ها از طرف د افغانستان بانک به صرافان و پیشکش کنندگان خدمات پولی کمک میکند تا در فعالیت های صرافی و خدمات پولی از شفافیت بیشتر کار گیرند.

# تویت های اقتصادی

ارگ @ARG_AFG · Nov 5

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهوررئيس محمداشرف غني او د هيواد لومړی مېرمن نن له غرمې مخکې په ارګ کې د قطر د دولت له لوري په وروستي سفر کې د هيواد لومړی مېرمن لپاره ورکړل شوې ډالۍ، د افغانستان بانک مسوولينو ته وسپارله.




Da Afghanistan Bank- Afghanistan @AFGCentralbank · 15h

سخنرانی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در کنفرانس ژنیوا!
facebook.com/17278439941085...




Ministry of Finance - Afghanistan @mediaoffice_mof · Nov 12

بانک انکشاف آسیایی مبلغ ۱۸ میلیون دالر امریکایی را برای افغانستان کمک کرد.
برای جزئیات بیشتر به لینک زیر مراجعه نمایید:
bit.ly/3nedJSU




Ministry of Industry & Commerce AFG @MoICAfghanistan · Nov 5

در دیدار با سفیر غیر مقیم بلاروس
روی چگونگی صادرات محصولات افغانستان به آن کشور، واردات ماشین‌آلات صنعتی و بسته‌بندی آن، انتقال دانش تخنیکی و عملی، برگزاری نمایشگاه‌ی تجارتی در کابل و منسک به هدف بازاریابی به اجناس دوکشور و افزایش حجم تجارت بحث و گفت‌وگو کردند.



VOA Pashto امریکا غږ @VOAPashto · 1h

افغانستان کې د زعفرانو د کښت ساحه پراخه شوې dlvr.it/RlDPJ7



Ministry of Finance - Afghanistan @mediaoffice_mof · 21h

د پیسو نړیوال صندوق اجرائیوي پلاوي، د افغانستان د ملاتړ لپاره د ۳۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو هوکړه لیک تصویب کړ.
bit.ly/3eE9X1Z



# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک
سال چهاردهم شماره ۱۶۱، عقرب ۱۳۹۹

**پول ملی، سمبول وحدت ملی و نشانۀ اقتدار ملی کشور ما است.**

**ملي پيسې، د ملي يووالي سمبول او زموږ د هېواد د ملي اقتدار نښه ده.**

**ملی‌پول، اولکه میزنینگ ملی بیرلیک و ملی اقتداری بیلگی سی دیر.**

